مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۱/۲۶

# زړه دې ښه ډک

## د سترګو غولی دې لوند

**پوه شوم تګونکې شولې**

**د تګ شیبه کې ژړغونکې شولې**

**زړه دې ښه ډک**

**د سترګو غولی دې لوند**

**پاس دې و نه کتلې**

**د سفر څوری دې پر شا کړ راغلې ما ته چې ځم**

**ما غوښتل سترګو کې درتووایمه**

**خو، له ویلو مخکې**

**زما له سترګو څو پښیمان سرتیري**

**ستا قدمو ته په سجده پریوتل**

۲۰۱۸/۰۸/۲۵
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ